# ویکتوریا 11
# د ماشوم د خوندیتوب معیارونه

## د ماشوم د خوندیتوب لپاره د ویکټوریا په معیارونو باندې پوه شئ

په جنوري 2016م کې په ویکتوریا کې د ماشوم لپاره خوندي معیارونه پیل شول. له هغې وروسته، موږ ولیدل چې د ماشومانو او نویو خوانانو لپاره د خوندیتوب په معیارونو کې څه ډول ښه والی راغلی دی.

په 2022 او 2023 کې بدلونو زموږ معیارونه تر پخوا نور هم پیاوړي کړل.

د 2022 د جولای میاشتې راپدیخو، هغه اداري چې[1] د معیارونو تر پوښښ لاندې دي، باید له 11 نویو معیارونو سره مطابقت ولري.

دا11 معیارونه لږ تر لږه مقررات رامنځته کوي او د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د خوندي ساتلو لپاره هغه کړنې په ګوته کوي چې اداري يې باید ترسره کړي.

دا معیارونه د ادارو لپاره ډېر توضیحات چمتو کوي او په آسترالیا کې له نورو معیارونو سره ډېر سمون لري.

په 11 معیارونو کې ځانګړي اړتیاوې شاملې دي:

- کورنۍ او ټولنې به د مؤسساتو په هڅو کې ښکیل کړي ترڅو ماشومان او تنکي ځوانان خوندي وساتي.
- د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو په خوندیتوب باندې ډېر تمرکز ولري.
- په آنلاین چاپېریالانو کې به د ماشوم څخه ناوړه ګټې اخیستنه اداره کړي
- د حکومتدارۍ، سیستمونو او پروسو ته په پام کې نیولو سره ماشومان او تنکي ځوانان خوندي ساتي.

## اداري د کومو کارونو ترسره کولو ته اړتیا لري؟

**اداري باید له 11 معیارونو سره ځانونه برابر کړي**

کمیسیونپه خپل ویب پاڼه کې له ادارو سره د مرستې په موخه په پراخه کچه منابع لري تر څو معیارونه په ښه ډول پوه او پلي شي.

موږ همداراز تاسو هڅوو چېدلته ګډون وکړئ، تر څو برښنالیک ترلاسه کړئ او تر هغې پورې به کمیسیون د موسساتو سره د مرستې په موخه نوي مالومات او لارښوونې چې له معیارونو سره سمون ولري خپاره کړي.

کمیسیون د دې صلاحیت لري چې د هغو موسساتو پر وړاندې اقدام وکړي چې دا معیارونه نه مراعات کوي یا ور سره سمون نه لري.

[1] د اړونده نهادونو لپاره ټول ریفرېنسونه په دغه سند کې د سازمان/سازمانونو په لاسرسي د موخو لپاره بدل شوی دي. په 3(1) برخه کې تشریح شوی دی *اړونده نهادونه د ماشومانو سلامتیا او خوندیتوب د 2005 کال قانون* او هغه نهادونه په ګوته کوي چې د خوندي ماشوم معیارونه باید رعایت کړي.

# د ماشوم د خونديتوب معيارونه کوم دي؟

د ماشوم د خونديتوب لپاره 11 معيارونه شتون لري:

**د ماشوم خونديتوب معيار 1 – مؤسسات د کلتور له پلوه خوندي چاپيريال رامنځته کوي په کوم چې د اصلي اوسيدونکو دماشومانو او تنکيو ځوانانو بيلابيلو او ځانګړو هويتونو او تجربو ته درناوی او ارزښت ورکول کيږي.**

د ماشوم د خونديتوب معيار 1 سره په مطابقت کې يوه مؤسسه بايد لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:

1.1 ماشوم ورتيا ولري چې د خپل کلتور څرګندونه وکړي او خپل کلتوري حقوق پرځای کړي چې هڅونه او په فعاله توګه ترې ملاتړ کيږي.

1.2 په مؤسسه کې دننه ستراتيژۍ رامينځته شي کومې چې د دغې مؤسسې ټول غړي مجهز او پوه کړي ترڅو د اصلي اوسيدونکو کلتور درک کړي او د هغوی ځواک وستايي او د اصلي اوسيدونکو د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د دغه کلتور په اهميت پوه شي.

1.3 د مؤسسې لخوا ګامونه واخيستل شي ترڅو د مؤسسې دننه توکميزم وپيژندل شي، مخه يې ونيول شي او تحمل نه شي. د توکميزم د هرې پيښې په د مناسبو عواقبو سره سم چلند وکړای شي.

1.4 مؤسسه بايد په فعاله توګه په خپل دننه کې د اصلي اوسيدونکو د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او د هغوی د کورنيو ملاتړ او برخې اخيستنې ته لاره کړي.

1.5 د مؤسسې ټولې پاليسي، طرزالعملونه، سيستمونه او پروسې بايد په مجموعي شکل د کلتور له پلوه يو خوندي او ټولشموله چاپيريال رامنځته کړي او د اصلي اوسيدونکو د ماشومانو، تنکيو ځوانانو او د هغوی د کورنيو اړتياوې پوره کړي.

**د ماشوم خونديتوب معيار 2 – د ماشوم خونديتوب او هوساينه ته د مؤسسې په مشرتابه، حکومتدارۍ او کلتور کې ځای ورکړل شوی دی.**

که د ماشوم د خونديتوب معيار 2 سره په مطابقت کې وي يوه مؤسسه بايد لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:

2.1 مؤسسه د ماشوم د خونديتوب لپاره عامه ژمنه کوي.

2.2 د ماشوم خوندي کلتور څخه د مؤسسې په ټولو برخو کې بشپړ ملاتړ شوی دی او څرګند شوی هم دی.

2.3. د حکومتدارۍ ترتيبات په ټولو کچو کې د ماشوم خونديتوب او هوسايني پاليسي پلي کول اسانه کوي.

2.4 د چلند اصول د کارکوونکيو او رضاکارانو لپاره د متوقعه معيارونو او مسؤوليتونو په اړه لارښووني وړاندې کړي.

2.5 د خطر د مديريت ستراتيژۍ ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د متوجه خطرونو په مخنيوي، پيژندلو او کمولو تمرکز کوي.

2.6 کارکوونکي او رضاکاران د مالوماتو د شريکولو او ريکارډ ساتلو په اړه خپل مسؤليتونه درک کوي.

**د ماشوم خوندي معيار 3 - ماشومان او ځوانان د خپلو حقونو په اړه ځواکمن کيږي، په پريکړو کې برخه اخلي کومې چې ورباندې اغيزه کوي او په جدي توګه څيړل کيږي.**

د ماشوم خونديتوب معيار 3 سره په مطابقت کې، يوه مؤسسه بايد لږترلږه د لاندې مواردو په اړه ډاډ ترلاسه کړي چې:

3.1 د خونديتوب، مالوماتو او برخه اخيستنې په ګډون، ماشومان او تنکي ځوانان د هغوی د ټولو حقونو په اړه خبر شوي دي.

3.2 د ملګرتيا د ارزښت پيژندل شوی دی او د همزولو څخه ملاتړ ته هڅونه شوې ده، ترڅو د ماشومانو او تنکيو ځوانانو سره د خوندي احساس په کولو کې مرسته وکړي او جلاينه يې لږ وي.

3.3 وضعيت او شرايطو ته په کتو، ماشومانو او تنکيو ځواناتو ته د جنسي تيري د مخنيوي برنامې او د عمر اړونده د مناسبو مالومات ورکول شي.

3.4 کارکوونکي او رضاکاران د ځوروني د علاماتو د پيژندلو لپاره توافق وکړي او د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د ماشوم دوستانه لاروچارو اسانتياوې برابرې کړي، د پريکړې په اخيستلو کې ګډون وکړي او خپلې اندېښنې شريکې کړي.

3.5 مؤسسات د کلتور د ودې لپاره ستراتيژۍ ولري کومې چې ګډون ته لاره هواروي او د ماشومانو او تنکيو ځوانانو فعاليت ته ځواب ويونکې وي.

3.6 مؤسسات ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د برخې اخيستنې فرصتونه برابر کړي او د دوی برخې اخيستنې ته ځواب ويونکې واوسي او په دې توګه باور او ښکيلتيا پياوړې کوي.

**د ماشوم خونديتوب معيار 4 – د ماشوم خونديتوب او هوسايني ته د ودې ورکولو لپاره کورنی او ټولنې خبرول کيږي او ښکيليږي.**

د ماشوم خوندي معيار 4 سره په مطابقت کې يوه مؤسسه بايد لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:

4.1 کورنۍ په پريکړو کې برخه اخلي کومه چې د دوی پر ماشوم اغيزه کوي.

4.2 مؤسسه د کورنيو او ټولنو سره ښکيليږي او د هغوی ماشوم ته د يوې خوندي رسيدنې او د اړونده شته mالوماتو په اړه ورسره په ښکاره توګه اړيکه نيسي.

4.3 کورنۍ او ټولنې په پرمختګ کې خپل نظریات شریکوي او د مؤسسې پالیسیو او کړنلارو ته بیاکتنه کوي.

4.4 کورنۍ، سرپرستان او ټولنه د مؤسسې د مدیریت او ادارې په اړه خبرول کیږي.

**د ماشوم خوندیتوب معیار 5 – عدالت او بیلابیلاو اړتیاو ته باید په پالیسیو او کړنلارو کې درناوی وشي.**

یوه مؤسسه باید د ماشوم خوندیتوب معیار 5 سره په مطابقت کې لږترلږه د لاندې مواردو په اړه ډاډ ترلاسه کړي چې:

5.1 مؤسسه، د کارکوونکیو او رضاکارانو په ګډون باید د ماشومانو او تنکیو ځوانانو مختلف حالاتونه درک کړي او د زیان اوښتلو وړ خلکو ملاتړ وکړي.

5.2 ماشومان او تنکي ځوانان مالوماتو ته لاسرسی ولري، ملاتړ او شکایتونه په داسې لارو چارو سره مخته بوځي چې په کلتوري ډول خوندي وي، د لاسرسي وړ وي او د پوهیدو لپاره اسانه وي.

5.3 مؤسسه د معلولیت لرونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو اړتیاو ته ځانګړي پاملرنه وکړي، د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو په ګډون څوک چې له کلتوري او ژبني پلوه بیلابیل شالیدونه لري، څوک چې په کور کې نشي اوسیدلی او یا لیسبیان، همجنس باز، نرښځی او دواړو جنسونو ته مایله ماشومان او تنکي ځوانان وي.

5.4 دغه مؤسسه د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو اړتیاو ته ځانګړي پاملرنه وکړي او د هغوی لپاره د کلتور له پلوه یو خوندي چاپیریال رامنځته کړی/وده ورته ورکړي.

**د ماشوم خوندیتوب معیار 6 ـ هغه خلک چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو سره کار کوي وړ دي او ملاتړ ترې شوی ترڅو د ماشوم خوندیتوب او هوساینې ارزښتونه په عمل کې منعکس کړي.**

د ماشوم خوندیتوب معیار 6 سره په مطابقت کې یوه مؤسسه باید لږترلږه ډاډ ترلاسه کړي چې:

6.1 ګمارنه، اعلانات، ریفرینس چک، د کارکوونکیو او رضاکارانو د مخکینیو کاري تجربو سکریننګ، د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په اړه ټینګار کوي.

6.2 اړونده کارکوونکي او رضاکاران باید د ماشومانو سره د کار کولو لپاره اوسنې چک یا ارزونه ولري او یا د شالید سره د مطابقت په اړه ارزونې ولري.

6.3 ټول کارکوونکي او رضاکاران یو له بل سره مناسب تعارف وکړي او د ماشومانو او تنکیو ځوانانو په اړه د خپلو مسؤولیتونو څخه خبر واوسي، د ریکارډ ساتلو، مالوماتو شریکولو او راپور ورکولو د مکلفیتونو په ګډون.

6.4 دوامداره څارنه او د خلکو مدیریت د ماشوم پر خوندیتوب او هوساینې تمرکز کوي.

**د ماشوم خوندیتوب معیار 7 ـ د شکایتونو او اندیښنو پروسې پر ماشوم تمرکز کوي**

د ماشوم خوندیتوب معیار 7 سره په مطابقت کې یوه مؤسسه باید لږترلږه ډاډ ترلاسه کړي چې:

7.1 مؤسسه پر ماشوم بانديې د متمرکزه شکایتونو کولو د لاسرسي وړ پالیسي لري، کومه چې په روښانه توګه د مشرتابه، کارکوونکیو او رضاکارانو لپاره ضوابط او مسؤولیتونه، د شکایتونو د مختلفو ډولونو سره د چلند کولو کړنلارې، د چلند د اصولو د اړوندو پالیسیو نقض او په اړه یې د ګام پورته کولو او راپور ورکولو مکلفیتونه په ګوته کړي.

7.2 د شکایت اغیزمنې پروسې د ماشومانو، تنکیو ځوانانو، کارکوونکینو او رضاکارانو لخوا درک کیږي او د کلتور له پلوه خوندي وي.

7.3 شکایتونه په جدي ډول وڅیړي او په سمدستي او بشپړ ډول ورته ځواب ویل شوی وي.

7.4 دغه مؤسسه پالیسي او طرزالعملونه لري او اړونده چارواکو ته د شکایتونو او اندیښنو په اړه راپور ورکولو ته رسیدګي وکړي، توپیر نه لري که چیرې قانون راپور ورکول غواړي او که نه او د قانون پلي کوونکو سره همکاري کوي او که نه.

7.5 د راپور ورکولو اړونده مکلفیتونو، محرمیت او د ګمارنې قانون مراعت کړي.

**د ماشوم خوندیتوب معیار 8 ـ کارکوونکي او رضاکاران د پوهې، مهارتونو او پوهاوي سره مجهز شوي دي ترڅو ماشومان او تنکي ځوانان د روان تعلیم او روزنې له لارې خوندي وساتي.**

یوه مؤسسه باید لږترلږه د ماشوم خوندیتوب معیار 8 سره په مطابقت کې ډاډ ترلاسه کړي چې:

8.1 کارکوونکي او رضاکاران د دې لپاره روزل شوي او ملاتړ ترې شوی ترڅو مؤسسه په اغیزمنه توګه د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي پلې کړي.

8.2 کارکوونکي او رضاکاران روزنه او مالومات ترلاسه کړي ترڅو د ماشوم د زیان علامات وپیژني په شمول د هغو زیانونو چې د نورو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لخوا ترسره شوي وي.

8.3 کارکوونکي او رضاکاران روزنه او مالومات ترلاسه کوي، ترڅو د ماشوم په اړه د خونديتوب او هوسايني مسايلو ته په اغيزمنه توګه ځواب ووايي او د خپلو همکارانو ملاتړ وکړي، څوک چې زيان په ډاګه کوي.

8.4 کارکوونکي او رضاکاران په دې اړه روزنه او مالومات ترلاسه کړي، چې څنګه وکولی شي د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د کلتور له پلوه خوندي چاپيريالانو رامنځته کړي.

**د ماشوم خونديتوب معيار 9 ـ د فزيکي او آنلاين چاپيريال خونديتوب او هوسايني ته وده ورکوي پداسې حال کې چې ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د زيان رسولو فرصت راکموي.**

يوه مؤسسه بايد د ماشوم خونديتوب معيار 9 سره په مطابقت کې لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:

9.1 کارکوونکي او رضاکاران په آنلاين او فزيکي چاپيريالانو کې خطرات په ګوته او کم کړي پرته له دې چې د يو ماشوم د محرميت، مالوماتو ته د لاسرسي، ټولنيزو اړيکو او د زده کړې د حق په فرصتونو باندې معامله وکړي.

9.2 آنلاين چاپيريال د مؤسسې د چلند د اصولو او د ماشوم د خونديتوب او هوسايني د پاليسي او کړنلارې سره سم وکارول شي.

9.3 د خطر د مديريت کولو پلانونه، د مؤسسې فعاليتونه او د فزيکي چاپيريال لخوا د رامنځته شوي خطرونه په پام کې ونيول شي

9.4 مؤسسې چې د درېيم لاس ډلو سره د اسانتياو او خدماتو تړون لري، بايد د تداکارتو پاليسي چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو خونديتوب تضمينوي ولري.

**د ماشوم خونديتوب معيار 10 ـ د ماشوم د خوندي معيارونو پلي کول په منظم ډول بياکتل کيږي او ښه کيږي.**

يوه مؤسسه بايد لږترلږه د ماشوم د خونديتوب معيار 10 سره په مطابقت کې داډ ترلاسه کړي چې:

10.1 مؤسسه په منظمه توګه د ماشوم د خونديتوب کړنو بياکتنه، ارزونه او پرمختنه کوي.

10.2 شکايتونه، اندېښنې او د خونديتوب پېښې څېړي ترڅو د دوامداره ښه توب د خبريدو او سيستماتيکي ناکامی لاملونه په ګوته شي.

10.3 مؤسسه د کارکوونکيو، رضاکارانو، ټولنو، کورنيو، ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د اړونده بياکتنو د موندنو په اړه راپور ورکړي.

**د ماشوم خونديتوب معيار 11 ـ پاليسی او طرزالعملونه دا مستندوي چې څرنګه يوه اداره د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره خوندي ده.**

يوه مؤسسه بايد د ماشوم خونديتوب معيار 11 سره په مطابقت کې لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:

11.1 پاليسی او طرزالعملونه د ماشوم د ټولو خوندي معيارونو ملاتړ او رسيدنه کوي.

11.2 پاليسی او طرزالعملونه مستند شوي وي او د پوهيدلو لپاره اسانه وي.

11.3 د غوره نمونو وړاندې کول او د ښکيلو اړخونو سره سلامشورې کول، د پاليسيو او طرزالعملونو د پراختيا په اړه خبرول.

11.4 مشران د پاليسيو او طرزالعملونو مطابق ځانونه عيار کړي او ورته ژمن واوسي.

11.5 کارکوونکي او رضاکاران په پاليسيو او طرزالعملونو پوه شي او عملي يې کړي.

## له کوم ځای څخه مرسته ترلاسه کړو؟

د ماشوم د خوندیتوب د معیارونو تنظیم کوونکي او نورې اداري کېدای شي د معیارونو د رعایت کولو په موخه له موسساتو سره مالومات شریک کړي او مرسته ورسره وکړي. د ماشوم د خوندیتوب د بېلابېلو معیارونو د مقرراتو په اړه بیاکتنه د کمیسیون په ویب پاڼه کې د لاسرسي وړ ده.

تاسي کولای شئ چې د کمیسیون څخه په لاندې اړیکو پوښتنې او سوالونه وکړئ؛

تلیفون: 1300 782 978

د برېښنالیک پته contact@ccyp.vic.gov.au

د کمیسیون ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ www.ccyp.vic.gov.au

که چېرې تاسو ژباړن ته اړتیا لرئ، نو د ژباړې او ترجمې له خدماتو سره په 50 14 13 شمېرې اړیکه ونیسئ او له هغوی وپوښتئ چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د کمیسیون سره په 978 782 1300 شمیرې اړیکه ونیسي.

که چېرې تاسو په غوږونو نه اورئ، یا په اوریدلو کې ستونزه لرئ او په خبرو کولو کې له خنډ سره مخ یاست، زموږ سره د ریلي د ملي خدمتونو له لارې اړیکه ونیسئ. د لا زیاتو مالوماتو لپاره www.relayservice.gov.au ته مراجعه وکړئ.